مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه ولی ارین ۲۰۲۰/۰۹/۲۱

# په استقلال پورې اړوند څو ارزښتمن مفاهیم

## (پنځمه برخه)

په دغه مقاله کې به، له ۱۷۴۷ میلادی کال نه بیا د ۲۰۲۰ میلادی کال تر ننه پورې له استقلال سره تړلي دغو ارزښتمنو مفاهیمو او ځینو تاریخي پېښو او حوادثو باندې رڼا واچول شي:

**ـ افغانستان د یو هیواد په توګه،**

**ـ په افغانستان کې استعماري سیاستونه،**

**ـ پر افغانستان باندې بهرني استعماري یرغلونه،**

**ـ استقلال،**

**ـ د هیواد اصیل ملي قهرمانان او په نوم ملي قهرمانان او مارشالان،**

**ـ د افغان دولت او طالبانو تر منځ په روانه سوله کې د امریکا لوبې.**

**استقلال:**

استقلال د یو هیواد سیاسي اقتدار او د هیواد د ولسونو هوویت دي. د افغانستان دولت سیاسي مدرن تاریخ په ۱۸ مه پیړی کې د دورانیو له سلسلې نه پیل چې په نتیجه کې ستر احمدشاه مقتدره او ستره امپراتوری جوړه کړه، د ۱۹ می پیړی په ورستیو کې افغانستان د یو حایل دولت په توګه د دوو سترو قدرتونو بریتانیا او روسانو تر منځ د« سیاسی لوبو» میدان وګرزید. چې په ۱۹۱۹ میلادی کال د افغان انګلیس د دریمي جګړې په بریالیتوب سره یې د غازی امان الله خان په مشرۍ د راولپنډی د موافقي پر اساس سیاسي استقلال بیرته تر لاسه کړ.

امان الله خان د نړۍ د ستر استعماري قوت په مقابل کې د نظامي برۍ وروسته په نړۍ کې د شرق ستر ازادي بښونکي نهضت د مشر په توګه محبوب او وپیژندل شو. هغه د استقلال د ګټلو وروسته د دوهم مشروطیت له مشرانو او کدرونو نه نوي حکومت جوړ کړ، چې بیا یې ملي دموکراتیک انقلاب په هیواد کې عملي کړ او افغانستان ته یې د پرمختګ او ترقي په لور حرکت ورکړ. خو په خواشینی سره چې ډیر ژر د انګریزانو د دسیسو قرباني شو او خپلو سپیڅلو موخو ته ونه رسید.

دا چې استقلال د افغانانو شرف، عزت او وقار دي، پالل، لمانځل او د دي د قهرمانانو یاد د هر افغان په خاص ډول ځوان نسل دنده ده. هیواد وال او حکومتونه باید د دغي تاریخي ورځي لمانځنه باید په شاندارو مراسمو تر سره کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

په خواشینی سره چي ځني هیواد پلورونکی، ایراني، پاکستاني او انګریزي جاسوسان د دغي تاریخي ویاړ په رابطه غیر عادلانه تبلیغات کوي، چي ګویا کوم استقلال، یا افغانستان تل مستعمره وه او داسي نور.

دغو لاسپوڅو ته باید روښانه شي چي افغانانو تل استقلال درلود، د نړی هر استعماري تاقت ونه شو کولای دلته خپل مستقل حکومت ټینګ کړي، حتا لاسپوڅو شاهانو هم د استعماري ځواکونو په مقابل کي دریدلي دي. د بیلګي په توګه کله چي انګریزانو شاشجاع ته د هغه د صدر اعظم ملا شکور ګوښه کولو امر وکړ، شاشجاع سره له دی چي د هغوی یو لاسپوڅی هم و، دغه امر یي ونه منه، کله چي انګریزانو عملاً مداخله وکړه او ملاشکور یي ګوښه کړ شاشجاع د انګریزانو پر ضد د جهاد فرمان صادر کړ.

**د هیواد ملي قهرمانان:**

د نړی په ټولو هیوادو کي ملي قهرمانان شته او ځانته تعریف لري. ملي قهرمانان هغو ته ویل کیږي چي د هیواد د ازادی او استقلال په لار کي یي سربښندني کړي وي، هیواد یي د اجنبي قووتونو نه ازاد کړي وي، د هیواد یوه برخه یي له دښمن نه تر لاسه کړي وي، یا یي داسي یو ستر نوښت او اختراع تر سره کړي وي چي ګټه یي د خپل هیواد ولسونو او نورو نړیوالو ته ور رسیدلي وي. چي زما په اند زموږ په هیواد کي ملي قهرمانان، ستر احمدشاه بابا، میرویس نیکه، شاه زمان، خوشال خان، غازی محمد اکبرخان، سردار محمد ایوب خان او غازی امان الله خان او ورسره یو شمیرد استقلال د ګټلود لاري غازیان، ملاله او غازی ادی دي، چي د دغه سمبول یا نوم حقدار کسان یي یادولي شو.

تاریخ پوه اکادمیسین کاندید محترم استاد محمد اعظم سیستانی هم د ملي قهرمانانو په هکله په یوه مقاله کي چي د افغان جرمن انلاین په سایت کي د استاد په ارشیف کي شتون لری خپره کړی چي لنډیز یي داسي په پښتو لوستونکو ته ژباړه او وړاندی کوم:

«کاش چي د ملي قهرمانانو له پاره په هیواد کي یوه حقیقي مقرره موجوده وای، چي د هغي پر اساس ملي قهرمان پیژندل کیدای او د هیواد ملي شورا د هغي په رابطه تصمیم نیولای.

ملي قهرمان، مارشال، فیلد مارشال «نباید از کیسه خلیفه بخشش داده شود»

مګر اوس چي هر چا ډیر کسان وژلي وي، ډیر کورونه یي وران کړي وي، دولتي او عام المنفعه مؤسسات یي سوزولي وي، پلونه او د برق پایي یي چپه کړي وي، هغوي ته ورکول کیږی.

تاریخ پوه اکادمیسین کاندید محترم استاد محمد اعظم سیستانی د دغو ارزښتونو له پاره څو لاندی شرطونه په نښه کړي دي:

- چا چي د ځای، مقام او قدرت له پاره د خپل هیوادوالو وینه نه وي تویه کړی.

- د ټولو هیواد والو په زړونو کي ځای او محبوبیت ولری نه د یوې سیمي او یو خاص ګروپ او قوم.

- د ملي شتمنیو، فرهنګي میراثونو، کانونو په چور او چپاول او د مخدره توکو په قاچاق تورن نه وی.

- په نظامي برخه کي د ثبات، امنیت او هیواد نه د دفاع، ملي یووالي او نورو ټولنیزو، فرهنګي، علمي چارو کي یي د عمل داسي ابتکار تر سره کړي وي چي نظیر یي نه وی.

- هیڅکله د پردیو هیوادو په خدمت کي او د جاسوسي سازمانونو او شبکو غلامي یي نه وي کړي.»

راځئ (تاسو او خدای) په هیواد کي د دغو یو ملی قهرمان او دوه مارشالانو ژوند او کارنامو ته یوه بی پری کتنه وکړئ چي د پورته کتګوریو کومي برخي سره برابر دي.

- د کابل د ښار ویجاړول او د ۶۰۰۰۰ بی ګناه کابلیانو وژنه د دې ملي قهرمان او ګلبدین تر منځ په جګړه کي چور، غارت، او بی ناموسئ هر په هیواد مین افغان ته د هیرولو دي.

- د هیواد د معدنونو چور چپاول چي د کال سل میلونه ډالر د لاجوردو، کوارتز، او نورو قیمتي ډبروو له لاری همدا ملي قهرمان او کورنی یي تر لاسه کوي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

- همدا ډول له شلو نه د زياتو هيوادو په استخباراتي شبکو کي تنظيم شخص څنګه ملي قهرمان کيداى شي.

ما خذونه:

١- جنرال ګروموف ارتش سرخ در افغانستان.
٢- سيد عبد القدوس، جنګهاى کابل، صفحۀ ٧١ ـ ٧٢
٣- امريکائى ليکوال ستيوکول، جنګ ارواح.
٤- د داکتر نجيب الله په وخت کي د بهادرا کمار د هند د سيار سفير مقاله چي د داکترمير عبد الرحيم عزيز له لورى ترجمه شوي ده.

تاريخ ته وګورئ شهزاده کامران د هرات د هغه وخت حکمران لس کاله د درى هيوادو قاجارى ايران، روسانو او انګريزانو د داخلي توتيو او مستقيمو جګرو په مقابل کي د هرات ولايت وساته، اما احمد شاه مسعود او د هغه ډلي په څو ساعتونو کي د طالبانو په مقابل کي ماته ومنله او تر کولابه و ځغاستل ايا داسي کس د ملى قهرمان لقب تر لاسه کولاى شي.

ټولو ته معلومه ده چي د طالبانو له سقوط وروسته د شوراى نظار د ډلي د هغه تړون له امله چي فهيم، محمد يونس قانونى او عبد الله عبد الله له امريکا سره لاسليک کړ او د هيواد ټول ځمکنى او فضائى حريم يي امريکايانو ته په اختيار کي ورکړ، نو ځکه امريکا د دوى د دغه احسان په مقابل کي مسعود ته د ملي قهرمان لقب او فهيم ته د مارشالى امتياز ورکړ.

ملي قهرمانان د افغانستان او روس په جګړه کي يوازى هغه نوم ورکي سربازان دي، چي نه يي قبر معلوم دي او نه يي څوک کومه پته لرى، نو ځکه د احمد شاه مسعود ملي قهرمان نومول او د فهيم او دوستم مارشالي، هغه سربازانو ته توهين دى چي د هيواد د ازادى او استقلال په لار کي يي خپل ځانونه قربان کړي دي.
نور بيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ